Surrey Schools
LEADERSHIP IN LEARNING

# SOGI جنسي غوښتنی او جندر پيژندنه

## افسانې او د رښتيا څرنګوالې

دا باید په پام کې ونیول شي چې جنسي غوښتنی او د جنسیت پیژندنه یو جلا ښوونیز پروګرام نه ګڼل کیږي. بلکه دا روزني د ټولیزه زده کړه او د خلکو پیژندګلوی، یعنی د ټولو اقشارو پر ګډون د موضوعاتو پراخه لړی منعکس کوي. د دې موخی د نفرت او تبعیض کمول دي ترڅو زده کونکي په مؤثره توګه وپیژني. همدارنګه، د دې موضوعاتو ښوونه د کومې جنسي غوښتنې لړی نه څرګنده وی .

د جنسي غوښتنی او جندر پیژندنه خورا اړینې سرچینې وسیلې ګڼل کیږي ځکه چې دوی زموږ د ښوونځي په ولسوالۍ کې ښوونکي د دې ټولنې د هر غړي پوهه او منلو ته وده ورکوي، دا پروګرامونه د نژاد، کلتور، مذهب، جنسي غوښتنی ، جنسیت پیژندنې پرته کارول کیدی شي.د جنسیت او پیژندنې قضیې د برتانیا کولمبیا او بشري حقونو قانون، کاناډا د حقونو او آزادیو منشور، او د ولایتی جنسی قوانینو تر چتر لاندی په ښه توګه اداره کیږي. د سري ښوونځي ولسوالۍ ډاډ ورکوي چې زموږ په ولسوالۍ کې هر ټولګي په ښه توګه ترلاسه شوي سرچینی کاره وی او ټول زده کونکي د خوندي او ښه ملاتړ ملګرتیا کوی. دلته زموږ ژمنه دا ده چې د ښوونکو او ښوونځیو بشپړ ملاتړ وکړو ځکه چې دوی د جنسي غوښتنی او جنډر پیژندی کې درناوی ارزښت ته د عمر مناسب زدکړی چمتو کووی او هغو دټولنی سره یوځای کوی. د دې تګلارې موخه د زده کونکو او د ټولنې د غړو په وړاندې چې د 2SLGBTQ+ په توګه پیژندل کیږي د تاوتریخوالې او تبعیض پیښو کمولو لپاره کار کولو پرمهال زغم، وقار او درناوي ته وده ورکول دي.

**تځینی وخت، د جنسی غوښتنی او جنسیت پیژندنې ټولیزه زده کړه څه شی دی او دا څنګه زموږ په ښوونځیو کې د خلکو او زده کونکو لخوا په پام کې نیول کیدی شي په اړه ځینی نا باوره فکرونه شتون لري. د ښه روښانتیا پرموخه، دلته د ټولو جنسي غوښتنی او جنسیت پیژندنې د زده کړې په اړه ځینې عام افسانې او اړوند حقایق شتون لري چې اړین ګڼل کیږي:**

**افسانه:** ټولیز جنسي غوښتنی او د جنډر پیژندنې زده کړه یو ځانګړي جنسي پدیده یا جنډر پیژندنې ته وده نه ورکوي.

**رښتیا :** د جنسی غوښتنی یا جنسیت پیژندنې په پام کې نیولو پرته د ټولو زده کونکو لپاره د خوندي او ټولیزه چاپیریال رامینځته کولو لپاره ، د جنسیت او جنډر پیژندنې ټولیزه زده کړې په داسې ډول ډیزاین شوي چې هیڅ ځانګړي پیژندنې یا مقام ته ستونزی نه جوړوی. او موخي یی د ټولګیو سرچینو کې د ټولو شموله خلکو استازی ده چی پیاوړي کولو او د 2SLGBTQ+ خلکو لخوا د تجربو او ننګونو په اړه د پوهاوي لوړولو له لارې د تبعیض سره مبارزه کول دي.

Surrey Schools
LEADERSHIP IN LEARNING

# SOGI
# الميل الجنسي والهوية الجنسانية

**افسانه:** د جنسیت او جندر د پیژندنې سرچینې کوم ناغیرنې موخی نه لری، مګر ټول مالومات په روښانه توګه تشریح شوي.

**ارښتیا :** زموږ په هر روزنیز خپرونو کې هیڅ ډول فحش یا څرګند ټکي شتون نلري چې د اندیښنې لامل شي. د جنسي او جندر پیژندنې ټولیزه زده کړه او سرچینې مسلې لکه د ارزښتونو پیژندنه، کورنۍ ته درناوی، آداب، تبعیض او اداسی نو ر جزییات په اړه خورا مالومات وړاندی کوی. دا سرچینې د ښوونکو لپاره خورا ښه ملاتړ چمتو کوي ترڅو ډاډ ترلاسه کړي چې ټول زده کونکي د ټولنیز مطالعې، انګلیسي، او هنر زده کړې په ګډون د هرې موضوع په تدریس کې د ښکیلتیا احساس کوي.

**افسانه:** داسې باورونه شتون لري چې د جنسي غوښتنی او د جنډر پیژندنې زده کړه د جنسي روغتیا زده کړې په څیر ده.

**رښتیا :** د جنسي غوښتنی او جنسیت پیژندنې موضوعات ده چې د روغتیا زده کړې څخه ځانګړې او جلا ګڼل کیږي. د جنسي غوښتنی او د جنډر پیژندنې ټولیزه زده کړه د ټولو زده کونکو د غوره پرمختک او پیژندنې ، ګډون او ملاتړ لپاره چمتو شوې دی، او په دی بشپړه کڅوړه کې د پیژندنې ، درناوی او تړاو په څیر موضوعات ښکیل دی. د یادولو وړ ده چې د جنسي روغتیا زده کړه د BC روغتیا او فزیکي زده کړې زدکړو خپرونو برخه ده او د انسان جنسیت بیولوژیکي، فیزولوژیکي او زیږون اړخونو ته ځانګړې ته ځانکړی پاملرنه لري. موږ باید پوه شو چې د جنسي روغتیا زده کړې د جلا مضمونونو سره په جلا توګه تدریس کیدای شي او ځینې لارښوونې څیری. والدین یا سمبال چار، د دوی د ښوونځي سره په خبرو، کیدای شي د K-10 زده کونکو لپاره د فزیکي زده کړې او روغتیا په تدریس برنامو کې د ځانګړو مضامینو لپاره د بدیل رسولو بندوبست وکړي.

**افسانه:** ډیری کتنې شتون لري چې جنسي غوښتنی او جنسیت پیژندنه د والدینو حقونو ته زیان رسوي.

**ارښتیا :** ارزښتنونو ته ددرناوی پرموخه، او ټولنی ته د ښه څیره یی وړندی کولو په خاطر - دیوبل دمنلو په پار اود والدینو د هڅو د بشپړولو لپاره په دی روزنیز خپرونو کې داسی څه چمتو شوي چې هیڅ وګړی ته زیان او منفی اغیزو پلمه نه لټوی . یا داسی څه نه کوی چی سرغوړنو ته لا زیاته لاره برابره کړی. داد والدینو حقونه نه زیانمنوي، بلکې د ټولو زده کونکو او کورنیو لپاره د درناوی ارزښت او ګډون په اړه پراخه پوهه ته هڅوي.

**افسانه:** د جنسي غوښتنی او جنسیت پیژندنې ټولیزه زده کړه د«2SLGBTQ+ ګمارلو» په اړه ده زده کونکو لپاره چمتو شوی دی .

**رښتیا :** د جنسي غوښتنی او جنسیت پیژندنې ټولیزه زده کړې موخی یواځی د 2SLGBTQ + اشخاصو لپاره د پوهاوي، منلو، او ونډی رامنځته راړول ګڼل کیږی او ویللو وړ دی چی دا یو بې بنسټه افسانو موخی نه ښکاره کوی. او د زده کونکو د جنسي غوښتنی یا جنډر پیژندنې د استخدام یا نفوذ کولو هڅه هم نه کوي. ښوونکي د زده کونکو ځانګړي پیژندنې ته ژور درناوی او ارزښت ورکوي، او د ټولګي چاپیریال رامینځته کولو لپاره ډیر خوراکار کوي چې ټولیزه چاپیریان را مینځ ته کړی.

# SOGI

# الميل الجنسي والهوية الجنسانية

Surrey Schools
LEADERSHIP IN LEARNING

**افسانه:** د جنسي غوښتنی او جنسیت پیژندنې ټولیزه زده کړه د زده کونکو لپاره بی معنی ښکاری .

**رښتیا :** دښه درناوي، شفقت او مهربانی په اړه ټولو زده کونکي ته په خورا توګه د یو بل منلو په اړه موضوعات بیانوی، پداسې حال کې چې ډیر پیچلي موضوعات لکه تبعیض او بې عدالتي کیدای شي په پرمختیايي او د عمر په مناسب ډول وپلټل شي. د جنسي غوښتنی او جنسیت پیژندنې ټولیزه سرچینې د بنسټیزو انساني نظریاتو لکه درناوی، منلو، او د ترړاو احساس په نښه کولو کې مهم رول لوبوي. او ددی خپرونو موخی ټولیزه زده کړه د هر ماشوم لپاره اړینه ده.

**افسانه:** د جنسي غوښتنی او جنسیت پیژندنې ټولیزه زده کړه د ددرسی خپرونو یو وروستی او جنجالي برخی ګڼل کیږی.

**رښتیا :** د جنسي غوښتنی او جنسیت پیژندنې ټولیزه زده کړه، لکه د پیژندل شویکلتورونو او نسلونو ښکلتیا، د لسیزو راهیسې زموږ په ښوونځیو کې د درناوی او ښکلتیا لپاره د پراخ موخو یو ه اړینه برخه وه. که څه هم د جنسي غوښتنی او جنسیت پیژندنې په دې وروستیو کې ډیر پام ځانته اړولی، دا کومه نوې مفکوره نه ده او د ډیری تعلیمي موسسو، د ښوونځیو ولسوالیو، او د ماشومانو پراختیا او روغتیا متخصصینو لخوا ملاتړ کیږي. جنسي غوښتنی او د جنډر پیژندنې هم د BC د بشري حقونو قانون ، د کاناډا د حقونو او آزادیو منشور، او ولایتی قانون سره خوندي او تر هغه چتر لاندی څیړنی کیږی.

**افسانه:** د جنسي غوښتنی او جنسیت پیژندنې ټولیزه زده کړې ته اړتیا نشته ځکه چې دا مسلې د ټولو زده کونکو سره هیڅ کوم تړاو نلري.

**رښتیا :** د جنسي غوښتنی او جنسیت پیژندنې ټولیزه زده کړه د ټولیزی ښکلتیا په اړه خورا بحثونه لری او باید وویل شی چی دا مسلې د هر زده کونکي سره تړاو لري. او درناوي هڅول، د تبعیض او ځورونې مسلو په نښه کول، او د ټولو زده کونکو ترمنځ د خپل منظر او خواخوږۍ رامینځته کول دي. سربیره پردې ۲SLGBTQ+ زده کونکي زموږ د ښوونځي د ټولنو غړي دي او ډیری وختونه د دوی د پیژندنې اړوند ځانګړي ننګونو سره مخ کیږي. مطالعې ښیې چې د ټولګیو ټولګي او د جنسي غوښتنی او جنسیت پیژندنې ځانګړي ځورونې ضد پالیسۍ درلودل د ښوونځي چاپیریال ته وده ورکوي، د ټولو زده کونکو لپاره تبعیض، خپګان، اضطراب، د موادو کارول، د ځان وژنې نظریه، او د ځان وژنې هڅې کموي. د جنسي غوښتنی او جنسیت پیژندنې سرچینې د دې ډاډ ترلاسه کولو کې مرسته کوي چې ښوونځي د هر سړي لپاره ښه راغلاست دي او ښوونکو ته اجازه ورکوي چې مهم موضوعات په خوندي او د عمر مناسب ډول حل کړي.

**افسانه:** د ښوونځي  په کتاب تونوو کی داسې کتابونه شتون لري چې د ماشومانو لپاره خوندي نه برښيي.

**رښتيا :** د ښوونځي کتابتونونه او د زده کړې عام ځايونه د ماشومانو او ځوانانو لپاره خوندي ځايونه دي. زموږ د ښوونځي ولسوالۍ يوه پراخه پاليسي لري چې د ښوونکي کتابتونونو ته لارښوونه کوي کله چې د ښوونځي کتابتونونو لپاره کتابونه غوره کړي. پدې پاليسي کې ځانګړي معيارونه شامل دي چې دوارړه لومړني او منځنيکتابتونونه بايد په پام کې ونيسي. دا ډاډ ورکوي چې ټاکل شوي کتابونه د عمر سره سم دي او زموږ م درناوی ټولنه ښکارندوی کوي، په شمول د 2SLGBTQ+ زده کونکي او کورنۍ ته پراخه لاره هواره وی.

زموږ په  مينځنيو ښوونځيو کې، د کتابونو پراخه لړۍ شتون لري چې درناوی  او کله ناکله د ځينو اړينو موضوعاتو  په اړه بحث کوی. د ښوونځي کتابتونونه يو  پلټل شوي چاپيريال وړاندې کوي چيرې چې زده کونکي کولی شي دا موضوعات په خوندي او منظم ډول وپلټي. هغو سرچينو ته لاس رسی درلودل چې د درناوی  او روښانه مضامينو ته ځان رسوي د زړو زده کونکو لپاره دژوند برخليک ټاکی، په اټکل شوی غير باوري يا زيان رسونکي انټرنيټي سرچينو باندې تکيه له مينځه وړی. سربيره پردې ، ددی برخوو اصلی ضمانت کوي چې يو باوري روښنانه سرچينوو د اړتيا په وخت کې د ملاتړ چمتو کولو لپاره لاس په لاس شتون ولرى.

**که تاسو د خپل ماشوم د زده کړې په اړه کومه پوښتنه لرئ، مهرباني وکړئ له خپل ښوونځي سره خبرې وکړئ. موږ د والدينو او پالونکو سره په خپلواکه توګه اړيکی ساتو او ستاسو ته ښوو هڅوو ارزښت ، درکوی  او سخت کار کوو ترڅو ډاډ ترلاسه کړو چې مور او پلار او پالونکي په ښه توګه  له هری موضوع څخه خبر لری او په فعاله توګه د دوی د ماشوم په تعليمي سفر کې بوخت دي.**